# حبیب جالب او پښتانه

رشید احمد



د محترم حبیب جالب په حقله مونږ ډېر څه اورېدلي او لوستلي دي. سیاسي لیډران،شاعران ، لیکوالان او پوهان د هغه شعرونه په خپلو تقریرونو،لیکونو او بحثو نو کښې د دلیل او خوند دپاره وائي دا ښاغلے څوک وو؟ د کوم ځاے وو؟ او د پښتنو سره د هغه څه تعلق دے ؟ او ماولي دغه موضوع ددې مطلب دپاره غوره کړه؟ نو ددې په شا څو اهم واقعات دي چې ددې لیک سوب شوي دي. هسې خوهغه د اردو ژبې نوموړے شاعر وو. د پښتنو قام پرستو سره ئې یو ژور تړون لرلو او تر مرګه هغه د دغه تړون مزے نه دے سست کړے. هر قدم یې ددوي په قدم ایښے دے. د بې وزلو دپاره یې غږ پورته کړے دے. جمهوریت دپاره یې قیدونه تېر کړي دي. ولې د هغه حق زما په خیال چا نه دے اداکړے. ځکه نو په دې لیکنه کښې د حبیب جالب دپښتنو سره د تړون یو لنډ جاج وړاندې کولے شي .او په اخره کښې دا خواست کولے شي چې دنوموړي کلامونه دې پښتو ته ترجمه کړے شي. چې د هغه حق ادا شي.

محترم حبیب جالب د پښتنو سره یو خاص تړون لرلو. هغه په هند کښې دپښتنو په کلي کښې زیږېدلے وو، د پښتنو سره په ګاونډ کښې لوئې شوے وو او ټول عمر یې د پښتنو سره ډله وه. او تر مرګه هغه په خپل فکر ټېنګ پاتې شوے دے. هغه په قام مئین وو او د قام او بې وزله اولس د پرمختګ او سوکالۍ دپاره یې خپل ټول عمر وقف کړے وو. هغه تر مرګه په پښتنو قام پرسته مشرانو مئین وو او چرته یې د دوي سره اختلاف نه وو کړے. هغه په خپل ژوند لیک ( سوانح عمري) کښې دپښتنو مشرانو درنه وئیلي ده او په هغو یې د خپل اعتماد څرګندونه کړې ده.

## زیږېدنه او ماشوم توب

محترم حبیب جالب د صوفي عنایت الله په کورکښې په کال 1921 کښې د هوشیارپور(هندوستان) په یو کلي" میاني افغانان "کښې سترګې غړولې وې. دغه کلے

مهمندو پښتنو ودان کړے وو. او د هغه نېکونه د غزني(افغانستان) نه دلته راغلي وو او په دغه کلي کښې اباد شوي وو. حبيب جالب په مالي لحاظ سره يوې کمزورې او بې وزله کورنۍ کښې ژوند تېر کړے وو. هغه د لوږو تندو او غربت نه سيوا بل څه نه وو لېدلي. د هغه کورنۍ که په مالي توګه هر څومره غريبه وه خو په علمي لحاظ سره اسوده حال وه او دعلم د زدکړې او خورولو سره يې مېنه لرله. او هم دغه وجه وه چې محترم حبيب جالب دعلم حاصلولو دپاره ډيلي ته لاړو او کله چې هند تقسيم شو نو هغه پاکستان ته د خپلې کورنۍ سره کډه اوکړه.

## د شاعرۍ او شاعرانو سره اړيکي

په خپل ژوند ليک کښې ليکي چې زمونږ په کلي کښې هم خلقو د شعرو شاعرۍ او سندرو سره مېنه لرله او دهغوئ نه به يې ډېر څه اورېدل. په ډيلي کښې د هغه مشرورور په يوه مياشتېنۍ مجله کښې لېکل کول او مشاعرو کښې به يې ګډون کولو. دغه مشاعرو ته به حبيب جالب هم د ورور سره تلو او دغه رنګ يې په دغه فن کښې دخپل وخت لوئې لوئې ښتې لېدلي او اورېدلي وې. داسې يې د شاعرۍ سره تړون پيدا شۀ ليکي چې په ډيلي کښې زمونږ سکول ته مخامخ يو جمات وو زمونږ استاذانو صاحبانو به هلته مونځ کولو او طالبعلمان به يې هم په مانځه اودرول. هلته د مانځه نه وروستو د دعا په وخت يوه مطلع ذهن ته راغله :

مدتيں ہوگئيں خطا کرتے
شرم آتی ہے اب دعا کرتے

او هم داسې حبيب جالب شاعرۍ سره تړون پيدا کړو. د پاکستان جوړېدو نه وروستو په کراچۍ د مېشتۀ کېدو نه پس هغه ته دلويو لويو شاعرانو سره د ملاقاتونو او شعرو شاعرۍ اورېدو موقع په لاس ورغله .او هغه په اولس کښې ځانته يو جوت مقام ترلاسه کړو.

## کار روزګار

محترم حبيب جالب د خپل خاص طبيعت له کبله په يو ځاے مستقل نه دے پاتې شوے. په مختلفو اخبارونو کښې يې کار کړے دے،په مشاعرو کښې به يې ګډون کولو،فلمونو له به يې سندرې لېکلې او هم دغه د هغه کار روزګار او دامدنۍ کومه مستقله ذريعه يې نه لرله.

## سياسي تړون

د ترقي خوښونکو شاعرانو سره هم دهغه تعلق جوړ شو. په خاص ډول د ميا محمود علي قصوري سره يې نژدې اړيکي لرلې. ځکه چې هغه د ازادۍ دپاره قيدونه تېر کړي وو. جالب صيب ليکي چې کله نيشنل عوامي پارټي جوړېدله نو ترقي خوښونکي ،دجمهوريت علمبردار او ايمپيرياليزم مخالفين په دغه ډله کښې شامل شول. دغه خلقو د يو ازاد ،خپلواک او سوکاله پاکستان جوړېدو دپاره هلې ځلې کولې. ټول ترقي پسند،او کميونسټ هم په دغه ګوند کښې ځاے شول. په دغه زمانه قام پرسته او جمهوريت خوښونکي په مشرقي او مغربي پاکستان کښې يو ځاے کېدل. هم دغه وجه وه چې دے هم په دغه ډله کښې شامل شوے وو. او په دغه زمانه کښې د کال 1962 دستور هم نافذ شو. ددغه دستور او

سیاست په مقابل کښې حبیب جالب د خپل ګوند او ډلې سره تړون نور کلک کړو. او د دغه دستور په حقله یې خپل مشهور نظم په یوه مشاعره کښې واورولو. او داسې د هغه د نیولو،قید کولو دپاره لارې چارې هوارې شوې.

په دغه زمانه د مارشل لاء خلاف هلې ځلې جارې وې او د محترم حبیب جالب تعلقات د قام پرسته او وطن دوسته سیاسي مشرانو سره کلک شوي وو. هغه به دخان عبدالولي خان،اجمل خټک،ارباب سکندرخان خلیل، او محمود علي قصوري سره په سیاسي جلسو کښې ګډون کولو. د کال 1964 د اولسي ټاکنو دپاره متحده اپوزیشن هم جوړ شوے وو. خو حکومت هغه وخت شپه په شپه داسې کار اوکړو چې ټول انتخابات ایوب خان اوګټل. هغه لیکي چې یوه ورځ په لاړکانه کښې د فیض احمد فیض په مشرۍ کښې مشاعره وه زه هم هلته موجود ووم. مونږ د ذوالفقارعلي بهټو سره سحر په چمن کښې ګرځیدو نو ما ترې پوښتنه اوکړه چې مولانا بهاشاني مو څنګه ځانته واړولو. نو هغه اووې "چې دغه قصور زما دے. ما مولانا ته اووې چې مونږ چین ته روان یو اوته د مادرملت سره امریکې ته. اودغه وخت مې ورله پیسې ورکړې. "وړاندې وائي چې یوه ورځ زه د خان عبدالولي خان،چوهدري ظهور الٰهي سره ملتان ته روان وم. نو د چوهدري نه مې تپوس اوکړو چې تاته په دې عمر کښې د روپو اخستو څه ضرورت پیښ شو؟ نو ولي خان په بړق بړق اوخاندل وې ته د عمر خبره کوې دلته خو د لس اتیا(90)کالو سړے هم خرڅیږي. لیکي چې د هغه اشاره مولانا بهاشاني ته وه. د مولانا بهاشاني په وجه مادر ملت دغه انتخابونه بائللي وو او جمهوریت ته ډیر لوئې نقصان رسیدلے وو. که چرې دغه سودا بازي نه وے شوې نو نن به دملک حالات بدل وو.

## د پښتنو مشرانو سره د محترم جالب مینه

حبیب جالب د باچاخان بابا په حقله وائي چې " د باچا خان سره د هغه د مرګ نه لږه موده مخکښې زما ملاقات شوے وو. زۀ پېښور ته یوې جلسې دپاره تلے ووم .ما ورکرانو ته اووې چې زه باچاخان سره لیدل غواړم. نو هغوئ زه باچاخان له بوتلم. هغه وخت دهغه سره پښتانه مشران ناست وو. چې زه یې اولیدم نو په اردو کښې یې خبرې شروع کړې چې د جناح صیب پاکستان خو ختم شو اوس څلور ورونه پاتې دي. څوک اوبۀ زغلوي چابجلي یوړه، مونږ ته دې هم خپله برخه راکړے شي. وائي چې هغه هرڅه د پاکستان دننه غوښتل. چې کله هغه خبرې ختمې کړې نو ما ورته اووئیل چې بابا تاسو ټول عمر تقریرونه کوئ. نن زۀ څو خبرې ستاسو په خدمت کښې پیش کول غواړم.

تاسو د هټلر خلاف جنګ اوکړو ...تاسو ته وړومبے سلام.

بیا مو د فرنګي سره جنګ اوکړو. د احمد اباد په فسادونو کښې چې کوم مسلمانان کیمپونو ته تلي وو. تاسو هغوئ په کیمپونو کښې لټول. کله چې تاسو د یو کانګریسي وزیر سره دهغوئ په لټون کښې وئ نو یو کمیونسټ مشر تاسو ته اووې چې دا سړے به ستاسو مرسته اونکړي نو تاسو هغه وزیر کوز کړو او هغه کمیونسټ تاسو کیمپ ته بوتلئ تاسو په هغه کیمپونو کښې

پخپل تقریر کښې وئیلي وو:
"تـاسو دومره کمزوري شوئ چې خپل کورونه او هـر څـه مو پریښول او دلته راغلئ. حوصله ساتئ زه راغلے یم "بیا تاسو هغه خلق په خپلو کورونو کښې بـحال کړل او او مو فرمائیل " نـه په هندو کښې ایـمـان پـاتې دے او نـه مسلمـان کښې. داکمیـونسټ زما خوښ شو "زۀ تـاسـو ته سلام پیش کوم.

د افـغـانستان په جنګ کښې تاسو وئیلي وو "دلتـه د مسلمانانو وینه بیولے شي او مونږ ته د امـریـکي لاس وهـنـه قبـوله نه ده "زۀ(جـالب) ستاسو عظمت ته سلام پیش کوم.

ما دا ټولي خبرې بابا ته عرض کړې نو بابا اووئیل چې حبیب جالب له ډوډۍ راوړئ.

## خان شهید عبدالصمد خان اچکزے او جالب

حبیـب جـالب صیب وائي چې یو وخت په جیل کښې په تکلیف کښې ووم او هر څه راته بند وو. نـو یو تن ماله پخپلو لاسو ناشته راوړه کومه چې د جیـل انتـظـامیې راپرې نـه ښوده. او دغـه نـاشته ورله خان شهید عبدالصمد خان اچکزي په خپـلـو لاسـو راوړې وه. نـو پښتـنـو مشـرانو هم حبیب جالب ته د قدر په سترګه کتلي وو.

## محمد افضل خان لالا سره تعلق

پـه یو قیـد کښې ورسره محمد افضل خان لالا مـلګرے وو. وائي چې هغه به زمونږ په شان د ورکـرانـو ډېر خیال ساتلو .او یوځل یې شپږ سوه روپۍ ورکړې وې چې جیل ته پرې ځانله کتابونه رااوغواړو.

مـحتـرم حبیـب جـالـب د ټولو پښتـنو مشـرانـو سـتـائـیـنـه کړې ده او ټول یې په نامه یاد کړي دي. کله چې هغه ته بهټو په خپله پارټۍ(پي پي پي) کښې د شامیلیدو بلنه ورکړه نو هغه ورته اووئیـل چې زه خو په نیشنل عوامي پارټۍ کښې یـم، نـه خپـلـه پارټي پرېږدم او نه ستاسو په ټکټ الیـکشن کښې برخه اخلم. او دا دعوت ورته د میا مـحـمـود عـلي قصوري په کور کښې د هغوئ په وړاندې بهټو ورکړے وو. خو هغه انکار کړے وو. او پـه هـغـه زمـانه هغه هم پوهه وو چې که دبهټو سـره یـو ځـاے شـي نـو انتخاب هم ګټي او نورې ډېرې فائدې تر لاسه کولے شي خو هغه داسې او نه کړل.

داسې نـور هـم ډېـر واقعات شته چې هغه پـکښې د پښتـنـو مشـرانو سره د خپل خلوص او مینـې څـرګـنـدونـه کړې ده او دوئ تـه یې خپل مشران وئیل او اعتماد یې پرې کولو. هغه لیکي چې زه نیشـنـل عوامي پارټۍ سرګرم غړے ووم. خـو دپـنـجـاب مشـرانو څه عهده نه راکوله. ولې عبـدالـولي خان راته یوځل اووې چې ډهاکه کښې بـه مـلاقـات کـوو. اودې دپـاره یې زۀ د مرکزي کـمیټۍ غړے اوګـرځـولم. داسې نور ډېر واقعات هغه په خپل ژوند لیک کښې ذکر کړي دي.

## پښتنو مشرانو او اتلانو ته پیرزونې

حبیـب جـالب پښتنو مشرانو ته هم وخت پـه وخت د عقیدت پیرزونې وړاندې کړې دي لکه بـاچـا خـان تـه یې د عـقیدت پیرزونې هم وړاندې کړې دي. پـه خپل ژوند لیک کښې یې هغه ډېر په درنـو ټـکـو کښې یاد کړے دے او هغه خلق یې هم غندلي دي چا چې په هغه تورونه لګولي دي. د دې نـه عـلاوه هـغـه خان شهید عبدالصمد خان هم په

درنو تکو یاد کړے دے. حبیب جالب د قیصه خوانۍ شهیدانو ته هم د عقیدت پیرزونې په خپل یو نظم" قیصه خوانی کے شهیدون کي نذر " (مخ 147 ) کښې وړاندې کړې دي. او ولي خان ته یې په خپل یو نظم"ولي خان"( مخ368 ) کښې هم دعقیدت ګلونه وړاندې کړي دي دکوم نظم چې دا یو شعر ډېر زیات مشهور شوے وو:

کسی سنگدل کے درپر مرا سر نہ جھک سکے گا
مرا سر نہیں رہے گا مجھے اسکا ڈر نہیں

## حبیب جالب او ترقي پسند

محترم حبیب جالب ترقي پسند وو خو کمیو نسټ نه وو. هغه په دغه دواړو نظریو کښې فرق کولو. هغه پخپله ځان هم ترقي پسند ګڼلو او د هغه داوینا ده چې نیشنل عوامي پارټي کومې ته چې هغه خپله پارټي وئیله یوه جمهوري پارټي ده ،ترقي پسنده ده،د ګاونډي ملکونو سره ښه تعلقات غواړي، د امپیریلزم خلاف ده او انتخابات خوښوي.

جمال احساني د جالب په سوانح عمري (مخ 81-80 )کښې لیکي چې ابراهیم جلیس د ترقي پسندې نظرئیې خاوند وواو هغه وخت ځان ترقي پسند څرګندول ګران وو ځکه چې حکومتي ایجنسو به په ترقي پسندو او کمیونسټانو کښې فرق نه کولو. د حبیب جالب ددغه خبرې نه معلومیږي او واضحه ده چې هغه ترقي پسند وو خو کمیونسټ نه وو. په دغه دواړو نظریو کښې هم یو جوت فرق لیدے شي. د هغه ملګري اکثر ترقي پسند وو او ددغه لیکوالو سره یې هم ژورې اړیکي لرلې. پښتانه لیکوالان او شاعران اکثر ترقي پسند او قام پرسته دي. ځکه چې دغه ټول د جمهوریت، ترقۍ،سوکالۍ، مساواتو،دلیک او تقریر په ازادۍ یقین ساتي.

## حبیب جالب او اجمل خټک

اجمل خټک هم ډېر لوئې او معتبر شخصیت دے. هغه یو مفکر،انقلابي شاعر،افسانه نګار،تاریخ نویس،غزلګو غرض داچې یو ګڼ اړخیز شخصیت او د جدید پښتو ادب کلاسیک لیکوال دے. هم دغه شان حبیب جالب هم انقلابي او مزاحمتي شعر ونه وئیلي دي. دا دواړه نابغه د خپل دور هم فکره ،هم خیاله شاعران دي. دواړو ډېر دتکلیف عمر تېر کړے دے .او دواړو د خپل پرمختګ خوښونکي ذهن او فکر دپاره جیلونه خوړلي دي او د هغه دور د حکومتونو بلا جواز تکلیفونه یې زغملي دي.نن چې پښتانه څه لږه ډېره فکري ازادي لري نو په دې ګټلو کښې د دغه دواړو شخصیتونو یو لوئې لاس دے

## حبیب جالب او رحمت شاه سائل

محترم رحمت شاه سائل د "پښتون" مجلې د دسمبر 2015 په ګڼه کښې په دیارلسم (13)مخ د افضل خان لالا په حقله خپلو یادښتونو کښې لیکي چې مونږ کله دانتخاباتو دپاره جلسې کولې. نو په دغه دوران کښې حبیب جالب صیب هم د محترم اجمل خټک سره څو ورځو له راغلے وو. او مونږ د" دربند "او" امب" په دوره وو. په دربند بازار کښې جلسه وه او ددغه سیمې خلقو هندکو وئیله. "نو ما حبیب جالب ته اووې چې دلته به زه ستا نظم پیش کووم. نو ته به

دغــه نــظــم دلتــه نه وائي. هغه حېران شو چې تۀ به زمــا نــظــم څــنګــه اووئيلے شې ؟ ما دغه نظم په جـلسه کښې اووئيلو " خـطره هے زردارون کو " نو هغه ډېر حېران او خوشحاله شو " حبيب جالب تـــه بـــه مــحتــرم اجــمــل خټک د سـائل صيب د شعرونو اردو ترجمه کوله او هغه به ترې ډېر خوند اخستو.

## د حبيب جالب يو نظم او د قلندر مومند يوه افسانه

د دوه ميــاشتــپــنۍ مجلې" پاڅون " پــه يوه ګڼه کښې مې د مــحتــرم حبيــب جـالب د يو نظم چې د هتهــکړو پــه حــقــلــه دے د ښاغلي عظمت هما يو ليــکــنه لوستې وه. محترم ليکوال د غه نظم او د قــلــنــدر مومند يوه افسانه ذکر کړې وو او دهغوئ فــکري يو شان والے يې ستائيلي وو. دلتـه دا خبره ذکـر کول غواړم چې په دغه زمانه دا دواړه ښاغلي پــه يو ګوند کښې وو او فکري تړون يې لرلو. ولې دا خبره ښکاره ده چې محترم قلندر مومند خپله د افسانو مجموعه" ګجرې "په کال1957 ء کښې چـاپ کړې وه او مــحتــرم حبيب جالب دغه نظم د کال 1964 خـوا وشـا کښې وئيلے وو. د ښاغلي قلندر مومند افسانه" ګجرې "صرف د هغه ذاتي تــخيل دے او دهغه د فکر زيږون دے. او د محترم حبيــب جـالب دغه نظم يوه حقيقي واقعه ده چې د هــغـــه لاســو کښې هتهــکړۍ وې او د يونيم کـال مــاشومې لور يې ورسره لوبې کولې. دې ته مونږ اتفاق يا توارد وئيلے شو. چې فکري يو شان والے دے. دواړو د يــوبــل نـــه اخذ کړي نــه دي. البتــه د قــلندر مومند افسانه يقينا د حبيب جالب د نظم نه

څو کاله وړاندې چاپ شوې ده.

د حبيب جالب" پور"

محترم حبيب جالب پښتنو مشرانو ،او د قيـصـــه خــوانۍ شهيــدانــو تــه هم منظوم عقيدت وړانـدې کـړے دے. د دې نـــه عـــلاوه هــغــه زمونږ مشــران پــه خپــلو نظمونو کښې ستائيـلي دي. او تــاريخ يې محفوظ کړے دے خو دپښتــون اولس نه پټ دے. څــومــره بـــه غــوره وي کــه څوک د هغــه کــلامــونــه پښتــو تـه منظوم ترجمه کړي. که ټول کــلــيــات يې تــرجــمــه شــي ډېره به غوره وي او که داسې نه وي نو چې منتخب کلام يې ترجمه شي او ټــولــو پښتو لوستونکو ته وړاندې شي نو دابه په يــو لــوئې د قدر وړ کار وي اود حبيب جالب پور به هم اداشي.

## ما خذونه او حوالې


.حبيــب جــالــب ،جالب بيتي، طاهر سنز پبلشرز لاهور،2013،مخونه31-32.30 ،92-93،-110 111،131،118،188-189،195 .
حبيــب جالب ، کليات حبيب جالب،شرکت پرنټنګ پريس لاهور2005 ،مخونه147 ،368،274.
بحبجمال احساني،جالب جالب، اداره احباب جالب کراچي،1993.
رحــمــت شــاه ســائــل ، د ډېــرو تــرخــو تجربو نه راټېر شوے،مياشتينۍ" پښتون "دسمبر2015 ،مخ13 .
عظمت هما،"د حبيب جالب درې شعرونه او د قلندر مـــومـــنـــد افســانـــه"، پــاڅــون،نومبر- دسـمـبـر 2015،مخونه35-33.
قلندر مومند،ګجرې،1957.